فقیر
۲۹ سپتمبر ۲۰۲۴

## د ډیورند فرضی کرښې ته نږدې مصنوعی (جنګونه!)

تېرو شلو کلونو کی دافغانستان د آبادی چانس برابر شوی و، خو پاکستان د روزل شویو طالبانو په لاس داسې ناامنی جووړه کړه چې یوه پروژه هم مکمله او موفقه اجرا نشوه، لا زیاتی ډېر تخریبات وشول. د همدې ناامنی له امله سالمه حکومتولی هم جوړه نشوه، بلکې خبره تر تنظیم شوی فساد پورې ورسېده. آخر امریکا مجبوره شوه چې طالبان د یوې داسی ډلې په توګه مسلط کړی چې اقلاً د بهرنیانو دپروژو د تطبیق امکان برابرشی، لکه د تاپی پروژه، د چین د ویرولو وسیله، د روسانو د وارخطا کولو او تهدید لپاره د یوې وسلی لرل او نور مقاصد. دا چې څومره افغانان پکی له منځه ولاړل، څومره روحی ناروغان شول، څومره معیوب شول، څومره له تحصیل پاتې شول، څومره مهاجر شول... دا به نه حسابوو.

پاکستان دا لوبه په ډېر مهارت توده ساتلی، دهند وضعیت ته به ګوری او دتاپی تطبیق به د طالب په لاس کی لرلو سره څاری، بندرونه به دافغانستان دمحصولاتو د صادرولو په موسم کې بندوي، په بیلابیلو بهانو به ولسونه ترتهدید لاندې نیسی او خپلی الوتکی به دافغانستان په فضا ګرځوی او آن کله کله به بمبارد هم کوي... په دې ټولو ذرایعو د افغان غیرتی ولس روحیات ځپي.

دا هم معلومه ده چې د طالب جلب د پاکستان د استخباراتو لاس کی ده، خو د دی لپاره چې هسې عامه اذهان وغولوي، ځینی وخت ډیورند سره مصنوعی اوطالب سره په مشوره جنګ شروع کړی، یو څو ورځې مطبوعاتو کی ډنډوری نشر کړي چې ګویا طالبان د پاکستان خلک نه دي او حتا جنګ ورسره کوي! دا مهمه نه ده چې دې لوبه کې څومره افغانان وژل کیږي. په دې عمل سره دډیورند فرضی کرښې ته د (سرحد) مفهوم ورکوي. ګویا چې پاکستان یو خوا او افغانستان بل خوا دی. حال دا چې دیورند کرښه نور اعتبار نه لري دواړو غاړو ته یو ولس پروت دی. نو وطنوالو د انګریز د حرمونی په دی سیاسی او شیطانی لوبو مه دوکه کیږئ. مهمه دا چې طالبان خلک څاري که چا اندک د پاکستان خلاف خبره وکړه فوراً یې د یو ملی افغان په توګه پیژني اود پاکستان د مخالف په توګه یې نیسی او ژوند یی ورختموي. همدا اوس هره ورځ پکتیا، خوست،کندهار، ننګرهار او کنړ کې هره ورځ لسګونه مرموز قتلونه کیږی چې میډیا نه ورڅخه خبرېږی. یعنی دا شیطانی لوبې څو مقاصد لري، وربانډی دوکه کیږئ مه. بس ده چې دا څلویښت کاله دوکه شولو.